آصف بهاند
۲۰۱۷/۰۱/۱۱

# لارورکي لارويان

## دیارلسمه برخه

## د ماسکو هراړخيز پردی چاپيريال

### يخني او مزدوري:

دلته به لومړی په ماسکوکي دافغانانودخوارۍ،مزدورۍ اوځینوستونزوپه باب وغږیږم او بیا به پرفرهنګي کارونواو نشراتوباندې رڼا واچول شي.

ماسکو ته تللي افغانان له اقتصادي پلوه په دوو برخو ويشل کېدای شول:
يو هغه ډله خلک وو چې يو څه شته يي درلودل، د تجارت په کار و بار سره بلد وو، يا په ژبه پوهيدل او يا يي ترجمانان استخدام کړل او سمدلاسه يي کار ا و بار، دکانداري يا د چا خبره تجارت پيل کړ.
بله د اکثريت هغه ډله وه چې ټول هست او بود يي تردي ځايه د رسيدو په خاطر لګولي وو او اوس د پولی پرق ته ناست وو. مازې يي د خدای په توکل د ټوپکيانو له سره اور څخه ځان را خلاص کړی او دلارورکو لارويانو په ليکه باندې يې ځان ماسکو ته په دې تمه رسولی و چې که امکانات برابر شي کوم امن هيواد ته پناه يوسي.
کار و بار په اول کې يو څه ښه و، هغه هم د هغو خلکو له پاره چې يو څه شته يي په لا س کې درلودل، په ژبه او تجارت پوهيدل، هغوی يو څه پيدا کول او په اصطلاح کاريي جوړ و. د همدې له پاره په افغانستان کې آوازې خپرې وې او دا خبره د خلکو پر ژبو ګرځيده را ګرځيده چې: «کمره خم کو، دالره جم کو»؛ خو هغه چا چې څه نه درلودل او بيا په تيره چې په ژبه نه پوهيدل، کارونه او ژوند يي ګډوډ و. په دې ډول ويلای شو چې اکثريت افغانان په همدې سرنوشت اخته وو. د اکثريت دې ډلې له يو عالم ستونزو سره ژوند له صفر نه راپيل کړ.
په لومړي سر کې افغانانو د تجارتي کارونو له پاره يو ټاکلي مرکز نه درلود. شتمنو خلکو، چا قانوني او چا غير قانوني تجارتي شرکتونه پرانستي وو. تجارتي مالونه معمولاً له چين، هند، ترکيې، پولند تايوان، دوبی، پاکستان او ځينو نورو هيوادونو نه راوړل کيدل.
روسان د شوروي اتحاد د شتون په موده کې پټې سترګې ساتل شوي وو. وروسته له هغه چې شوروي امپراتوري ړنګه شوه، د ټولې دنيا دروازې د دوی پر مخ خلاصې شوې. هغه هيوادونه چې تجارتي کار و بار يي په نړيواله کچه ښه چليده، په دې ښه پوهيدل چې روسان په څه خبر نه دي، په ځانګړي ډول هند او چين. يادو هيوادونو په خپلو ګدامون وکي د کلونو، کلونو نا خرڅ شوي مالونه د روسيې په لور وخوځول او روسانو به په ډير هوس دغه د کلونو پخوا توليد شوي او له موده لويدلي مالونه په ډيرې مينې او تلوار شره اخستل.
هغو افغانانو چې سرمايه نه درلوده، له تجارتي شرکتونو څخه يي ډير لږ شيان په نغدويا په پور اخستل او په بازارکي به يي د پرچون په ډول خرڅول. په پورته يادو شوو هيوادونو کې تر ټولو ارزانه مال، چينايي مال و. روسان هسې هم تر ډيره وخته پورې د مال په کيفيت نه پوهيدل، هر څه چې په مخه ورتلل، اخستل يې.
دتجارتي شرکتونوآدرسونه او د تيلفون نومرې د شخصي اړيکو پر اساس له بيلابيلو ځايو نه تر لاسه کيدای شوې. چا چې لږ و ډيره پيژندګلوي درلوده، نو په پور به يې هم مالونه پيدا کولای شول او يا به مال د امانت په ډول چې په روسي ژبه کې رياليزاخيه ورته وايي، اخيستل کيده او وروسته له خرڅلاونه به د مال بيه تجارت خاني ته سپارل کيده.
د شوروي اتحاد له ړنګيدو وروسته په ماسکو کې د آزاد بازار د پاليسی له مخې ګڼ شمير لوی او واړه تجارتي بازارونه پرانستل شول. په دې بازارونو کې روسانو او د نوروهيوادونو ګڼ شمير خلکو، په تيره آسيايانو تجارتي کارونه او دکانداري کوله. په دې ډله کې افغانان هم په بيلابيلو بازارونو کې په کار لګيا وو، يوازې په دې توپير چې په دې خلکو کې تر ټولو مجبور او بيچاره خلک افغانان وو. اسناد يي نه درلودل، ډيری يي په ژبه، کلتور او قوانينو بلد نه وو، له لارو او له ترانسپورت نه د استفادې ډول ور مالوم نه وو.
اکثريت افغانان د يوې مړی ډوډی د پيدا کولو له پاره کړی ورځ له بيلا بيلو ستونزو سره لاس ګريوان وو. دوی د کار په لړ کې ځانونه هم غولول، پوليس يي هم غولول او عام خلک خو د پخواني شوروي اتحاد د بندو دروازو د سياست له کبله، داسې نا ليدلي او بې خبره ساتل شوي وو چې د ديرشو روبلونو مال به يې په زرو روبلونو هم اخيسته.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

یوه ورځ چي د بازار د خلاصیدو او د کار د پیل لا نیم ساعت تیر نه و، که ګورم یو تن افغان چي بوټان یې خرڅول، لګیا و ژړ، ژر یې خپل مالونه بیرته ټولول. پوښتنه مې ځیني وکړه څه خبره ده، بیا خو به پولیس په بهرنیانو یرغل نه کوي؟
هغه ویل نه کومه خبره نه شته، یو جوړ بوټ مي چي په دیرش روبله اخیستي وو، همدا اوس مي په نه سوه روبله خرڅ کړل، سړي په پښو کړل او د میترو خوا ته روان شو. څو شیبي وروسته بوټ شکیړي او سړی بیرته راځي، ځان ولي په غضب ککړ کړم، ښه ده چي له دې ځایه لاړشم.
افغان لاړ په خپله مخه. څو شیبي وروسته روس د قهریدلي بیږ په څیر را پیدا شو، له سوړمو نه یې شین دود جګیده، بوټان شکیدلي وو او ده پلورونکی لټاوه. مستي ښکنځلي یې کولي او ګرد چاپیره په دکان دار پسي ګرځیده.
هغه بوټان چي ده اخیستي وو، اصلاً د ژونديو د پښو کولو نه وو، هغه د مړيو له پاره وو. په شرقي او غربي اروپا کي عیسوي مذهبه خلک مړي ته د کفن پر ځای دریشي او بوټان وړ اغوندي او ښخوي یې. د همدې دلیل پر اساس د دغو بوټانو جنسیت او کیفیت خراب وي؛ خو روسانو د ټرلو دروازو د سیاست له برکته هغه هم نه پیژندل.
دا چي روسانو د ښه او بد توپیر نه شوکولای، ژوندیو د مړو شیان استعمالول؛ دلیل یې دا و چي دوی څه نه وو لیدلي. نا څاپه یې ټرلي دروازي پر مخ پرانستل شوي او د بهرنیو مالونو باران جوړ شو.
ځینو هیوادونو لکه هند او چین په لومړي سر کي خپل هغه مالونه روسیي ته را ورسول چي تاریخ یې تیر او له موده لویدلي وو. په کلونو، کلونو په ګدامونوکي پراته وو، تر څو چي یې خدای د روسانو د نا پوهی په وجه دعا قبوله کړه، ټول خرڅ شول او د نوم وړو هیوادونو تجارانو په میلونونو ډالر تر لاسه کړل.
له څه مودې وروسته چي د ځینو افغان تجارانو کار و بار لږ برابر شو، یو ستر تجارتي مرکز یې پرانست. دغه تجارتي مرکز سواستوپول نومیده. دا تجارتي مرکز د ماسکو په هغه لوی هوټل کي جوړ شو چي په ځانګړي ډول د۱۹۸۰ کال د المپیک لوبو له پاره جوړ شوی و. د دې هوټل دوه اتلس پوړیزه ودانۍ د تجارتي مرکزله پاره کارول کیدې. د هوټل له کوټو نه تجارت خاني او دکانونه جوړ شوي وو. د روسیي له بیلا بیلو سیمو نه به خلک په عمده مالونو پسي راتلل. د ماسکو ښاریانو به هم په پرچون ډول له دې مرکز نه سودا کوله. څنګه چي دغه هوټل سواستوپول نومیده، نو د دې تجارتي مرکز نوم هم د افغانانو په منځ کي په سواستوپول مشهورشو.
په دغه تجارتي مرکز کي د بیلابیلو هیوادونو خلک کار کوي، لکه: هندوان، چیچینیان، تاجکان، ازبکان، ترکان؛ خو تر ټولو زیات افغانان په کي په کار بوخت دي.
زه چي ماسکو ته تش لاس رسیدلی وم، ټوله سرمایه مي یوازې سر او د تن جامي وې، نو له همدې سرمایې سره مي جوالي ګرۍ ته بډې و وهلې.
زما دغه ځلوریزه چي ما د ګران کاروان د شعرونو جونګ (چنار خبري کوي) د مخ کاته په محفل کي کاروان صاحب ته ډالی کړې وه، زما په پنډیګرۍ ښه صدق کوي:

| | |
|---|---|
| په زخمي زړه باندې شعرونه ورمه | په هر پرهر کي یې دردونه ورمه |
| په شنو باغو کي شین طوطي ګرځیدم | خو اوس پنډي یمه پنډونه ورمه |

د پنډیګرۍ په پیل کي لطیف لالا یو تن افغان تجار ته ور وپیژندلم چي د بوټو تجارت یې کاوه. دا افغان ګلاب شاه اکبري نومیده او د افغانستان د هرات ولایت اوسیدونکی و. ما به هر مازدیګر د ده ملکیت یوه لارۍ مالونه په شا چلول. د بوټونو کارتنونه به مي له لارۍ څخه ښکته کول او په ګدام کي به مي ځای پر ځای کول، بیا به ده ما ته یو کارتن بوټ په ریالیزاځیه یعني په امانت ډول راکول او پیسي به مي وروسته له خرڅلاوه ورکولي. په دې ډول ما د کور کرایه، د کورنی خرڅ، خوراک پوشاک برابرول.
په ماسکو کي به داسي لوی او ووړ بازار نه وي پاتي چي ما به یو وار خپل بخت نه وي په کي آزمویلی. داسي ورځي هم را باندې تیري شوي چي ترمنفي اته ویشت درجو یخنی کي هم په بازار کي دریدلی یم او کار مي کړی دی؛ خو له دې ټولو خواریو سره، سره زه دې کار ته جوړ نه وم او هیڅکله د دې کار جوګه نه شوم. په تجارت او د کانداری بیخي نه پوهیدم. په ژبه ډیر لږ پوهیدم. د افغانستان په ژبو، فرهنګ، شعر او ادب باندې چي یو څه پوهیدم، هغه د چا په کار نه وو.
روسي ژبه لنګه غوا وه، د چا چي زده وه، هغه به تجارانو د ترجمانۍ له پاره په لوړمعاش استخدامول او که یې په کوم بازار کي کار کاوه، نو کار به یې ښه جوړو. څوک به چي په ژبه نه پوهیده، کار و بار به یې خراب و، پولیسو به هم ښه جرمانه ورنه اخیسته.
د افغانانو کومي سیاسي ډلي چیرته له کومي روسي نظامي اداري سره په تفاهم کي ځینو افغانانو ته نظامي کارتونه ویشلي وو. څنګه چي موږ افغانان په هر څه کي افراط کوو، نو په دې کار کي هم افغانانو پوره افراط کړی و. په دې نظامي کارتونو کي ډیری افغانانو لیکلي وو چي پلانکی د پلانکي زوی دی او په افغانستان کي جنرال و. دا د نر زامن ټول من وو، یو چارګ او پاو په کي نه پیدا کیده، ټول جنرالان وو، دواړه ضابط درګ چا نه شو په کي لګولای.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په څیر و لولئ

د مسکو پولیسو به د دې کارتونو په لیدلو سره داسي فکر کاوه چي افغانان ټول له مېندونه جنرالان پیدا شوي دي. د همدې له پاره به يې چېرته چي افغان ولید، نو غږ به يې ور پسې وکړ:
واژایمي ګینرال، داکومنت پژالسته! (ښاغلی جنرال مهرباني وکړئ اسناد مو وښایاست!)
یوه ورځ پولیس په ما پسې د جنرال، جنرال غږونه کول، ما سر نه وربانديږ ګراوه، زړه کې مي ویل چي هسې خو مي جریمه کوي. سړي قدمونه ګړندي کړل، چې ما ته را ورسید، نو په قهر يې را ته و ویل:
تا زما غږ وا نه وریده لکه چې؟
ما ور ته و ویل:
وامي وریده.
نو ولي ونه دریدې؟
ما ورته و ویل: تا کوم جنرال پسي غږ کاوه او زه جنرال نه یم، ځکه و نه دریدم. دی دې نه وړي نه دې راوړي:
ولي ته د افغانستان نه یې که څنګه؟
ما و ویل بې له شکه چې افغان یم، خو جنرال نه یم.
دی په خندا شو او وی ویل:
دا لومړی ځل دی زه داسي افغان ګورم چي جنرال نه دی.
ما ته د ملا غوا را په یاد شوه. کوم ملا غوا اخیستي وه، په حویلی کې يې تړلي وه. طا لبان (د ملا عمر طالبان نه یا دوم) به ډلي ډلي د ملا د غوا مبارکۍ او لیدلو ته راتلل. هغوی به د غوا د عمر د معلومولو له پاره، د غوا شونډه جګوله او غاښونه به يې کتل. څنګه چي راغلو طالبانو ټولو سپین کالي او سپین پټکي درلودل، نو غوا لکه د پاولوف تجربه، له سپینو جامو سره شرطي شوه، بیا چې غوا چیرته سپین پګړی لیده؛ نو په خپله به يې شونډه جګوله. د ماسکو پولیسو به هم چي چیري افغان لیده، نو د جنرال غږ به يې پسي کاوه.
بلې اداري چي افغانانو ته اسناد ورکول، هغه د ملګرو ملتونو د UNHCR اداره وه. د دې اداري اسناد ډېر بې ارزښته وو او روسي پولیسو به د تشناب کاغذ ورته ویلې. کله به چي کوم افغان دا اسناد (د ملګرو ملتونو کارت) پولیسو ته ور وښود، نو پولیس به ورته و ویل:
اِته تولتنایه بوماشکه، مینیه داکومنت نده. (دا د تشناب کاغذ دی، زما اسناد په کار دي.)
بیا نو چې روسي پولیس په افغانانو روږدي شول، چې دوی بې اسنادو خلک دي؛ نو له لرې به يې چې افغان ولید، پولیس به په خندا شو، نور به د اسنادو پوښتنه نه وه، یوازې به يې ور ته و ویل:
پا لتینیک بیست؟ (پنځوس ګون شته؟)
دا ځکه چي د یو عادي بې اسنادو سړي جرمانه پنځوس روسي روبله وه. همدا دلیل و چې هر افغان به پنځوس روبله تیار په جیب کې اینبی وو. که به پنځوسی نه و، نو بې پیسو نفر به یې د پولیسو ماموریت ته بووه او دوه درې ساعته وخت به يې ورضایع کاوه، بیا نو پولیس بیولی سړی ایله مابښام، ماخوستن کور ته رسیده.
په لومړیو وختو کې به ځینو خلکو واړه ماشومان له ځانه سره ګرځول، هغه په دې دلیل چا سره به چي واړه ماشومان وو، پولیسو به دومره نه زورول. افغانانو د خپل دایمي افراط په لړکې همدې ماشوم ګرځوني ته هم زور ورکړ. بیا په ماسکو کې خپریدونکي اخبار (آواز) کې ژورنالستانو یو کارتون خپورکړ. په کارتون کې داسي انځور شوي وو چې یو مجبور مهاجر پلار، د ماسکو په ډیرو سختو سړو کې له ځان سره د کار ځای ته خپل شپږیا اوه کلن ماشوم راوستی و، بل افغان ورته وایي: څه کوې وروره!
په دې سړو کې تا وړوکی ماشوم له کوره را ایستلی دی، د خدای رضا به وي چې مهاجرت ته اړ وتلي یو، که هلک په دې سړو کې مریض شي، بیا يې په روغتون کې څوک مني هم نه! هغه بل ورته په ځواب کې وایي:
پوښتنه مه کوه وروه، دا ماشوم زما جیب هم دی او اسناد مي هم دي.
دا یو تریخ حقیقت دی چي کله نا کله به د ماسکو پولیسو د تلاشي په وخت کې ټول دار و نه دار له مهاجر نه لوټول، د همدې دلیل له مخې به خلکو پیسي د ماشومانو په جیبونو کې پټولې. که ماشوم د کار ځای کې خوشحاله و که خپه، که مریضیده که روغ پاتي کیده، دا د هماغه ماشوم او د هغې د کورنۍ ستونزه وه. څنګه چې ډیری افغانان په روسي ژبه یا نه پوهیدل او که پوهیدل هغه هم ګوډه او ما ته روسي وه، چې د ویلو په وخت کې به ډیری خلکو ور پورې خندل او پولیس به يې هم نه شو قانع کولای.
د ژبې د نه پوهیدني یوه خاطره چې پر ما تیره شوې ده، کیسه يې داسي ده:
ماسکو ته مو د راتګ نه ډیره موده تیره نه وه چي د کار پنډونه را په شاشول. ښه مي په یاد دي چې هوا توده وه، د اوړي ګرمي داسي په جوش کې وه، لکه د افغانستان جګړه؛ د ماسکو په یوه سر خلاصي بازار کې ولاړ وم، ښځینه بوټ مي خرځلاو ته وړاندي کړي وو. یوه روسۍ ښځه راغله او زما دکان ته ودریده، بوټ يې جګ کړ، ښه يې ښکته او پورته کړ او په اصطلاح د خریداری په نظر يې ورته وکتل، بوټ يې خوښ شو، را ته وې ویل:
پچوم؟ (په څو، قیمت يې څو دی؟)،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه په ژبه سم نه پوهيدم او ماسکو ته له راتګ نه مي ايله يو څو ورځې تيريدي. ما ته يوازې دومره ويل شوي و: چا چې بوټ بيه کول، ور ته و وايه:
دوښاخيت تيسيچه (دولس زره) ما ورته د بوټ قيمت و وايه. ښځه پرته له دې چې ما ته وګوري، وې ويل:
ايسليي اوپتم؟ (که يي عمده واخلم؟) ما په نا پوهيدنه کي ورته و ويل: ني ناده (لازمه نه ده).
ښځې په ډير تعجب بد، بد راته وکتل او روانه شوه. لږ وړاندې د بل افغان ميز ته ودريده هغه هم همدا ماډل او په همدې ارتيکل بوټان درلودل. هغه چې په ژبه پوهيده، نو سمدلاسه يي يوسل وشل جوړې بوټان ورباندې خرڅ کړل.
زه چې يو خوا په ژبه چندان نه پوهيدم او له بلې خوا په دکاندارۍ او تجارت، نو سخت په تکليف وم. په دې هم نه پوهيدم چې له خرڅلاوه پاتې مالونه ګدام ته وسپارم. په ګدام کې په ډيرو لږو پيسو ساتل کيدل. ما به دغه کارتنونه تر ميترو پورې چلول او ځان نه به مي نقط ای نيرنګي جوړاوه. پوليسو به له لرې په نښه کولم. خولې به را باندې را ماتې وې، کله به د ميترو کارکوونکو ميترو ته پرينبودم او کله به يي اجازه نه را کوله. په ټکسي کې تګ هم له خطره خالي نه و. ډير ځلې داسې هم شوي چې بيچاره مهاجر افغان خپل مال په ټکسي کې اچولی چې کور ته لاړ شي، خو روس ټکسي ډريور څنګه چې پوه شوی چې سړی نا بلده دی، په بله يي بيولی دی، کوم ځنګله ته يي ور برابر کړی. که ټکسي والا لږ غوندې ښه سړی و، ور ته ويلې يي دي چې دا مال دلته پريږده او خپله مخه کوه او که به مال والا لږ مقاومت کړی وای، نو بيا به يي اول سابه ور په مالګه کول او بيا به يي مال ور نه ووړ.
په ماسکو کې مي د کارد لومړيو ورځو کيسه ده:
له بوټو ډک کارتنونه مي غوښتل چې په ميتروکي کور ته يوسم. په ژبه هم سم نه پوهيدم. د ميترو په دروازه کې پوليسو درولم. اسناد يي وغوښتل، څنګه چې پوليس ښه سړی و، نو ويي ويل چې اسناد دې سم دي؛ خو د کارتنونو د پنډوالي او ډيروالي په خاطر يي ميترو ته د ننوتلو اجازه رانکړه. په دغه ورځ مي په بازارکي هم سودا خرابه وه، د ټکسي د کرايي پيسې هم نه وې را سره. ډير ځنډ حيران ولاړ وم. کله مي د وطن د حالاتو، کله د نا اهله سياسي مشرانو، کله د وطن د لرې او نږدې دښمنانو، کله د دې مهاجرت او کله هم د دې مجبوريت په باب فکرکاوه.
سره له دې چې پوليس راته ويلي وو چې ورځه ورځ مه ورکوه ميتروکې دې دا کارتنونه خلک په عذابوي، نه دې پريږدم؛ خو مجبوروم او سترګې مي سپينې کړې وې. کله به خندا راتله او کله به مجبوريت، مهاجرت او بې وطنۍ ژړولم. کله ما پوليس ته کتل او کله پوليس ما ته. له ډير ځنډ وروسته به د پوليس په زړه کې څه تير شوي وو، په ژبه يي څه و نه ويل، د لاس په اشاره يي پوه کړم چې ځه ننوزه.
په بازارونو کې د ګدامونو په شتون باندې فاروق فردا خبر کړم. د ماسکو ډير لوی تجارتي مرکز لوژنيکي نوميده. لوژنيکي د ماسکو هغه سپورتي کمپلکس و چې د ۱۹۸۰ کا ل المپيک لوبو له پاره جوړشوی و؛ خو د شوروي له ړنګيدو وروسته، د آزاد بازار د نښونښانو په ښکاريدو او د تجارت په رواجيد سره، له دې سپورتي کمپلکس څخه د سوداګرۍ بازار جوړ شوی و، چې هره ورځ د ميليونونو ډالرو په اندازه تجارتي مالونه په کې خرڅيدل. په دې بازار کې يوه ورځ د تصادف له مخې فاروق فردا په مخه راغی. ده هم کارتنونه چلول او ما هم. له خوږې سترې مه شي وروسته روان وو چې ما د کراچۍ مخه د ميترو پر خوا کړه کړه. ده را ته په ډير تعجب و ويل:
څه کوې،چيرې ځې؟ ما ويل ولې خو کور ته ځم کنه! ده بيا په بل ډول حيرانتيا را ته وکتل او وې پوښتلم: نو په دې کارتنو څه کوې؟ ما ويل دا هم کور ته له ځانه سره وړم.
په ځير، ځير يي ښايسته ډير ځنډ را ته وکتل او په خواشينۍ سره يي را ته و ويل:
ته راځه، په ما پسې راشه. ده چې همدلته زده کړې کړې وې، په ژبه پوهيده او په روسي کلچر او قوانينو هم بلد و، نو مخامخ يي ګدام ته بوتلم، ګدام يي را وښود او وې ويل:
هره ورځ وروسته له کاره کولای شې چې له خرڅلاوه پاتې مالونه په دې ګدام کې خوندي کيږدې. ګدام لرونکي د ډيرو لږو پيسو په بدل کې مالونه ساتي؛ خو روسان چې نوي دآزادۍ او د آزادۍ تولنې مزه څکلې وه، هرڅه کول په تيره بهرنيانو سره. کله کله به يي د خلکو په تيره د بهرنيانو د تيرايستلو له پاره له داسې چلونو څخه کار اخيسته چې بيا به هيڅ ډول سند چې دوی ملامت کړي، نه و پاتې. د تيرايستلو او چل يوه غوره نمونه يي په همدې ګدامونوکې وه.
کيسه داسې وه چې د سلو په شا و خوا کې خلکو، د کار په پای کې خپل مالونه په ګدام کې ايښي دي، ګدام ښه ډک شوی دی. خلک ټول تللي دي، خو سبا سهار چې بيرته خلک راغلي دي، چې کارتنونه او مالونه واخلي او کار ته لاړ شي، که ګوري چې په ګدام کې پرته له ايرو بل څه نه شته. د ګدام مسؤلينو ويل چې ګدام کې د شپې برق شارتي وکړه او هر څه وسوځيدل؛ خو خلکو کې ګونګوسی داسې و چې د ګدام مسؤلينو له مالونو ډک کارتنونه بل ځای ته وړي وو او په ګدام کې يي ګڼ شمير تشو زړو کارتنونو ته اور اچولی و.
د همدې مهاجرت د شپو په لړ کې چې ما په ماسکو کې تيرې کړې دي، داسې مي هم واوريدل او وليدل چې له افغان اسنادونه بهرنيانو لکه: تاجکا نو، چيچينيانو د ځينو نورو هيوادونو اتباعو هم استفاده کړې ده. زه به يي دلته دوې لنډې نمونې تاسو ته وړاندې کړم:
د ماسکو د ملګرو ملتونو په دفتر کې د يوه افغان کار کونکي د خولې خبره ده چې ويل يې:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«د رخصتی په ورځ په کور کي استراحت وم چي د کور تيلفون په شرنګا ور وغوښتم، ما بلي و ويل، خو مقابل لوري روسي ويله. دی زما يو روس پيژندګلو و، چي د ماسکو د ميترو د محاکماتو رييس و. ياد شوي شخص په خندا را ته و ويل:
يو وار پلانکي ځای ته راشه چي وطنداران دي راغلي دي. ما تعجب وکړ چي زما وطنداران چيرته او دی چيرته. خير ور وخوځيدم. هلته چي ور ورسيدم، له روغبړ وروسته ده د چايو ست کاوه او زه د خپلو وطندارانو ليدلو ته تړی وم. ما چي د هغو د ليدلو ټينګار کاوه، نو ده د خپل ميزله روک نه د ملل متحد دوه کارتونه راکړل. ما چي کارتونو ته وکتل، نومونه افغان ډوله، عکسونه هم افغان ډوله. ښه مي سوچ وکړ، خو دا عکسونه مي و نه پيژندل. يوي بلي کوټي ته يي بوتلم. هلته دوه تنه ناست وو. را ته و ويل شول چي دوی د ماسکو په ميترو کي له مخدراتو او دغو کارتونو سره يو ځای نيول شوي دي. ما پښتو او دري ور سره وآزمويله، دوی د پښتو په مقابل کي ګونګيان وو. يوازی يو څو کلمي دري يي زده کړي وه، خو هغه لکه د کوم کليوال فارسي، ډيره ژر خلاصه شوه او نا خود آګاه ور نه تاجکي پيل شوه. بيا مي هم وپوښتيدل چي د افغانستان د کوم ځای ياستئ؟
هغوی ويلي موږ د مزار يو. بيا مي چي د مزار په باب پوښتني ځيني وکړي، دوی په هيڅ هم خبر نه وو. بيا يي وروسته په خپلو اعترافاتو کي ويلي وو، چي اصلاً د تاجکستان د کولاب اوسيدونکي دي او د کوم نر؟ افغان له لاري نه يي دغه کارتو نه تر لاسه کړي وو.»
داسي هم شويدي چي له افغاني پاسپورت نه بهرنيانو استفاد کړي دي. د ۱۹۹۲ کال اوړی و، په بازار کي زما د مزدوری لومړنی ورځي وي. ورو، ورو له افغانانو سره بلديدم. په بازار کي به کله نا کله د بيلابيلو ناسيونالونو په منځ کي جنګ جګړي رامنځ ته کيدي. په دي شخړو کي به افغانانو پرته له کوم توپير او تضاد څخه يو بل سره مرسته کوله، خو يو تن چي د ټولو د اميد سترګي به هرکله ور کړي وي، يو قوي اندامه توربخون ځګ زلمی و، زما يي اوس اصلي نوم هير دی. څنګه چي ده به په دي وهلو ټکولو کي ښه سوکان وارول، نو افغانانو به دهرمندر با له.
يوه ورځ د ورځو درمندرد بازار په کوڅو کي په منډو سر و او افغانانوته يي څه په رمز او څه په برالا ويل چي مالونه مو ټول کړئ او ځان له بازار نه وباسئ چي پوليس په نوم سره افغان که اسناد ولري او که يي و نه لري، توقيفوي يي. کوم خوار که په لاس ورغلی وي، ورغلی به وي، نور پاتي ټولو ځانونه ايستلي وو. سبا ته بيا مجبور وو چي د روزي د پيدا کولو په هيله، د کار له پاره بازار ته لاړشو. سبا زړه نا زړه، په غلا غلا بازار ته ننوتو، خو پوليسو له ميترو نه نيولي، بيا تر بازار پوري افغانانو ته څه نه ويلي.
د همدي ورځي په اوږدو کي مالومه شوه چي کيسه بل ډول وه، هغه داسي چي:
کوم چيچيني له کومي روسي ښځي سره څه مشروع که نا مشروع اړيکي درلودلي. د همدي اړيکو له مخي چيچيني کومه ورځ د روسی کور ته، چي د همدي بازار په ګاونډ کي پروت و، ور ميلمه کيږي. د خوراک او څښاک په لړ کي چيچيني پوهيږي چي د روسی په کور کي ښي ډيري پيسي شته. چيچينی د دي پيسو د لوټولو په غرض څو پرله پسي ورځي هلته ورځي، تر څو په پای کي يي لاس ورباندي برېږي. ښځه وژني، پيسي لوټوي او د ښځي له مړي سره افغاني پاسپورت په ځای پريږدي. له لړ څه لټي وروسته پوليس ورباندي پوهيږي، قاتل د ماسکو په کوم مرکزي ريل ستيشن کي په داسي حال کي نيسي چي د تيښتي په حال کي و.
دي ته ورته داسي ډير مثالونه شته که سړی يي وليکي، نو کتابونه به ور نه جوړ شي.
لکه څنګه چي په تيرو بحثونو کي ما يادونه وکړه، په ماسکو کي به داسي لړ بازار وي چي ما خپل بخت نه وي په کي آزمويلی، خو داسي وخت هم راغی چي سرګردانيو، بي اسنادی، يخنی او د پوليسو مزاحمت نور تنګ کړم. سره له دي چي ما د سواستوپول د وړي سوداګری سرمايه او حوصله هم نه درلوده، خو هلته مي يو عادي ابتدايي دوکانګی پرانست.
سواستوپول کي هم زوړندي ډوډی نه وي، هلته هم د شته من او خوار مخي ته خپلي، خپلي ستونزي پرتي وي. په بازار کي که يوه پوليس پوښتنه کوله، دلته يي ډليز يرغلونه او شکوني کولي. ټول دوکانونه يي لټول. کله به يي لا د يونيم دکاندار ټول شته او مالونه ترينه يوړل. د شکايت ځای نه و. خلک حيران وو چي څه وکړي. وطن کي هسي، دلته داسي. په دغسي حالاتو کي به ما ته دغه سندره را ياده شوه:

«هلته کمونست مي بولي دلته مي اشرار
څه وکړمه خدايه رانه ورکه شوله لار»

د ديارلسمي برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ